SHARIAT

شریعت

اوونيزه

په اوونی کي دوه ځله خپرېږي

دافغانستان د اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

شپږم کال ۷ مه ګڼه پرله پسې (۳۸۷) چهارشنبه د۱۴۲۱ هـ ق کال د شوال المکرم (۲۹)
د۱۳۷۹ هـ ش کال د سلواغي دمیاشتي (۵) د ۲۰۰۱ میلادي کال د جنوري (۲٤)

الهی فرمان

عدل (انصاف) وکړئ ناسي! ، همدا (عدل) دير نږدې دی تقوا(پرهيزګـاری) ته.
(سورة المائدة)

توجه!

ايمان شما اجازه نخواهد داد كه اوراق حامل چنين كلمات مقدس را به بي حرمتي بگذاريد.

د وي سيت پروژې په فعاليت سره :

د هېواد هوايي ډګرونه د الوتني په مخابروی واحد مرکز سره سمبالېږي

کابل - باختر :

دوی سیت پروژې په فعالیت سره د کـابل کندهار مزار شریف هرات او د جلال آباد هوایی ډګرونه د الوتني د اطلاعاتو په واحد مرکز او د هوایی چلند په مخابروی واحد مرکز سره سمبالیږي چې د دغې پروژې ساری په سیمه کی نه لیدل کیږي.

دغه ټکی د ملکی هوایی چلند او توریزم وزارت تخنیکی معین محترم انجنیر راز محمد علمی د باختر د اطلاعاتی آژانس خبریال ته څرګند کړ او زیاته یې کړه د څو تیرو کلونو په تیل شویو جګړو سره زمونږ د هیواد د هوایی ډګرونو ټول تاسیسات او امکانات له فاصله سنجونکی زاویه سنجونکی د اخذی او مرسلی ستیشنونه د تیلفون سوچبورډ ، د څراغونو مزی د رنوی کرښی د بریښنا سیستمونه ، د الوتکو د لارښوونې دستګاه او د مخابروی لارښوونی نوری دستګاوی د هوا پوهنی ستیشنونه او د اوږ وږنی مرزونه په بشپړه توګه له منځه لاړل. او له ټولو ګاونډیو هیوادونو سره زمونږ مخابراتی ارتباط وشلید او زمونږ د هیواد په فضایی دهلیز کی یوه مخابروی ستونزه پیدا شوی وه او د عبوری الوتکو د تګلاری د بدلون خطر متصور و .

وروســتــه د ملکی هوایی چلند او

٤ مخ

د فوايد عامې وزارت توضيحي سيمينار پای ته ورسيد

کابل - باختر :

د افغانستان د اسلامی امـارت د ریاست الوزرا اقتصادی مرستیال محترم مولوی عبدالکبیر پرون د فـوایـد عـامـی وزارت د کـارکـوونکو د تنویری او توضیحی سیمینار په پایته رسیدونکی غونډه کی ګډون وکړ .

٤ مخ

د پوځي مرستو تر لاسه کولو په غرض :

د مخالفينو په ليکو کي شاملو کمونستو جنرالانو مسکو ته سفر کړي دي

دوی د يوه پوځي هيـأت په توګه د تاجکستان له لاري مسـکو ته تللي دي

د دی هيات په ترکيب کـی آصـف دلاور، نبـی عظـيمی او بابـه جان شامل دی

کابل - شریعت :

شریعت ته د باوری سرچینو په حواله ویل شویدی چې د مخالفینو په لیکو کی د کمونستو جنرالانو یوه پوځی هیـأت د مـسعـود په مستقیم دستور مسکو ته سفر کړی دی.

دغه هیـأت د سفر مـقـصـد مـخـالـفینو ته له مسکو څخه د پوځی مرستو تر لاسه کول دی.

د کمونستو جنرالانو د دغه هیـأت په ترکیب کی آصف دلاور، نبی عظیمی او بابه جان شامل دی.

د دوی د دغه سفر وروسته له هغه صورت نیسی چې یو شمیر روسی پوځی ماهرینو د مخالفینو له لیکو څخه لیدنه وکړه .

د یادونی وړ ده چې د همدغو روسی ماهرینو لخوا مخالفینو ته د نوموړو رکړل شویو وسلو پوځی سوونه او روزنه هم ترسره شویده مخالفین غواړی چې د دغه شان پوځی حرکاتو په ترسره کولو سره د خپلو سوال بابللو افرادو روحیه نوی کړی .

٤ مخ

په ننګرهار کی د امنيتي منسوبينو لخوا :

۱۲۷٤ کيلو ګرامه چرس تر لاسه شول

ننګرهار - باختر :

د ننګرهار ولایت د امنیتی مـوظفینو لخوا پرون د دغه ولایت دبهسود د پله په سیمه کی یو زرو دوه سوه څلور اویا کیلو ګرامه چرس کشف او تر لاسه شول.

د ننګرهار ولایت د امنیـه قوماندانی موظفینو پرون یو زرو دوه سوه څلور اویا کیلو ګرامه چرس چې په کوچنیو کڅوړو کی په

ص ٤

دکانو اوصنايعو محترم وزير له شريعت سره په مرکه کی :

د کـــانو او صنايعو وزارت د روان کـــال په بهير کی ٤٧۰ مليارده افغاني عوايد تر لاسه کړيدي

شریعت: قدرمنو لوستونکو! دافغـانستان د اسلامی امارت د کانو او صنایعو وزیر محترم الحاج ملا محمد عیسی اخند سونو له خبریال سره د یوی خبرې په ترڅ کی وویل : د کانو او صنایعو وزارت د ۱.۱.۱ له اقتصادی پالیسی سره سم په دی وروستیو کی دافغانستان د اقتصادی پرمختـیـا په خاطر ځانګړی پروګرامونه تر لاس لاندی نیولی دی ترڅو اقتصادی او تخنیکی

٤ مخ

تصویر په کابل کي د کانو او صنایعو وزارت ودانۍ ښيي

د اروپايي ټـــولني غړو هيوادونو غونډه وکړه

بروکسل - باختر :

د اروپا د ټولنی د پنځلسو غړو هیوادونو د بهرنیو چارو وزیرانو په بروکسل کی د خپلی غونډی په ترڅ کی له نړیوالو سـیمه ییزو سازمانونو سره په زیاتی همکاری باندی ټینګار وکړ.

د ارسیدلو خبرونو له

٤ مخ

در جزيره ايکو ادور :

به اثر انتشار نفت محيط زيست متاثر شده است

رئيس جمهور ايکوادور حالت اضطراري را در يکی از جزاير متعلق به آنکشور اعلام کرده که در آنجا در اثر انتشار نفت به محيط زيست سخت زيان وارد شده است .

ص ٤

جلسه بررسي خريداري ها و قرار داد ها داير گرديد

کابل - باختر :

تحت رياست محترم ... الدين ترابي وزير عدليه ديروز جلسه بررسی خريداری ها و قرار داد ها دایر گرديد هيئت موظف که به اساس مصوبه شورای محترم وزيران به خاطر بررسی از خريداری ها

ص ٤

نمايندگان فلسطين و اسرائيل دور جديد مذاکرات را آغاز نمودند

نماينده گان فلسطين و اسرائيل درمذاکرات صلح شرق ميانه در مصر تلاش ميکنند در جريان مذاکرات خود در مورد نقاط يك طرح اوليه مربوط به يك موافقتنامه صلح پايدار در آن منطقه به توافق

ص ٤

د زرمت ولسوالی روغتيايي مرکز ... فعال شو

پکتیا - باختر :

د پکتیـــا ولایت د زرمت ولسوالی روغتیایی مرکز بیا فعال او د ناروغـــانو او ناروغ لرونکو د استفادی وړ وګرځید .

په هیواد کی د روغتیـــایی مرکزونو د بیا جوړولو او د روغتیایی خدمتونو د پراختیا په لړ کی د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالی روغتیایی مرکز چې له څو کلونو راپدیخوا غیر فعال و په دی وروستیو وختو کی له بیا جوړولو وروسته فعال او د

٤ مخ

د جاپان د کابينی يو غړی استعفا ته مجبور کړی شو

توکیو - باختر

د جاپان د کابینی یو بل غړی دی ته اړ شو چې استعفا وکړی . دغه وزیر په اداری فساد او بهو اخیستلو تورن دی. دی چې د جاپان د اقتصاد د وزیر په توګه کار کوی خبریالانو ته وویل چې د جاپان صدراعظم یو شی هم موری ده د استعفا منلی

٤ مخ

در مدرسه عمار بن ياسر مسابقه تلاوت قرآن عظيم الشان صورت گرفت

کابل - باختر :

مسابقه تلاوت قرآن عظيم الشان ديروز در مدرسه عمار بن ياسر صورت گرفت.

در اين مسابقه که بين طالب العلمان مدرسه عمار بن ياسر براه انداخته شده بود محترم قاری محمد نعيم مقام اول محترم قاری

ص ٤

محترم مولوی ابو سعيد لعل محمد نعمانی رئيس دستگاه ساختمانی بنائي درمصاحبه با «شريعت»:

دستگاه ساختمانی بنايي درسال ۱۳۵۲ جهت اعمار ساختمانها وتعميرات عام المنفعه امارتی تأسيس گرديده است

شریعت : خوانند گان عزيز ! توجه شما را به مصاحبه جلب ميکنيم که خبرنگار صاحبین ديدار از دستگاه ساختمانی بنايي بامحترم مولوی ابو سعيد لعل محمد نعمانی رئيس آن تعـدی انجام داده است اميد مورد دلچسپی تان قرارگيرد .

درآغاز محترم چنين گفتند : دستگاه ساختمانی بنايي درچوکات وزارت محترم فوائد عامه درسال ۱۳۵۲ هـ ش تأسيس ګرديده وهدف آن ساختمان وتعميرات عام المنفعه امارتی ميباشد.

وی افزودند : متأسفانه جنگهای بی مفهوم اخير به دستگاه ساختمانی بنايي خسارات هنگفت مالی را ببار آورده که احصائيه آن به «۳۳» مليارد افغانی بالغ ميگردد خسارات مذکور عبارت از تخريب قسمت از تعمير

ص ٤

رئيس محکمه بين المللي به بلگراد سفر ميکند

رئيس محکمه بين المللی جنايات جنگی سازمان ملل متحد براي نخستين بار به بلگرادا سفر ميکند تا از مقامات جديد يوگوسلاويا بخواهد که جنايتکاران جنگی را باز داشت نمايند.

محکمه بين المللی در

ص ٤

په چين کي :

د مقناطيسی لاری جوړولو پريکړه وشوه

شانګهای - باختر :

د چین په شمـــال کی د یوی مقناطیسی لاری د جوړولو تړون د یوه المـانی شـرکت او د چینی مقاماتو تر منځ لاسلیک شو .

د المانی شـرکت لوړ رتبه ...ستازو او چینی چارواکو په ... کی د دغی پروژې د جوړولو د تړون په لاسلیک کـولو اقدام وکړ .

په دی ترتیب به په دوه زره دریم میلادی کال کی د چین په شمال کی په عملی توګه د یوی مقناطیسی لاری د جوړولو کار پیل شی.

ص ٤

امريکايي اردو په خپلو زغره والو وسايطو کی يورانيم کارولی دی

د خبرو شویو رپوټونو له مخی د امریکا د متحده ایالاتو اردو په خپلو ځه د پاسه زرو زرهیوشونو کی چې په المـــان کی ځای په ځای دی له یورانیمو څخه کار اخیستی دی .

د امـریکا د متحـده ایالاتو پوځی کار پوهانو د دغو زرهپوشونو د لا زیات کلک والی په مـقـصـد له یورانیمو څخه استفاده کړیده

٤ مخ

سرمقاله

دلوی خدای (ج) په نامه

د امريکې نوی مشر تابه او نړيوالي کشالي

دا دی بالاخره بیا هم د امریکایی ولس دوه دستور سره سم ښاغلی جورج ډبلیو بوش په ټاکنو کی بریالی او د حکومت مشرتوب یې تر لاسه کړ د نوموړی د تخت ناستی مراسم ښه په ډنګ ډول تر سره او په خپله پیلیزه وینا کی یې خلکو ته ښی خوری او نرمی خبری وکړی . کـه څه هم دا د زیاترو لویدیځو حکومتونو تګلاره ده چې له خپل ولس سره خورا د انصاف، زړه سوی او لوریني سیاست چلوی خو له نړیوالو سره بیا د نارامی ، ضد بازۍ او دوکه ماری چلند غوره کوی ، په هر صورت اوس لا وختی ده چې د نړیوال سیاست او بهرنیو کشالو په هکله د ښاغلی بوش

٤ مخ

شريعت

دتأسيس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د ليکوال هيئت ترنظر لاندې
مسؤول مدير : عبدالرحيم «ثاقب»
مرستيال : غلام محمد فاروق
دبوي گڼې بيه : په هيواد کي (۱۰۰۰) افغانۍ په پاکستان کی (۳) کلداري
پست بکس : (٤۷۱) کابل - افغانستان تيلفون : ۲۱۳۸۱توزيع و شکايات : ٦۲۸٥۹
جاري حساب : ٤۰۳۸٥/۷ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : امارتي مطبعه

د سرمقالي پاتي برخه

تگلاري وړاندوينه وشي. دا به راتلونکي ورځي څرگند وي چي نوي مشر د پخواني سيال «کلنټن» ناندريز سياست خپلوي او که د رښتينولي او بشري خواخوږي په اساس د نړيوالو کشالو سمون او بېخليز حل غواړي. په دې کې شک نشته چې «کلنټن» د عربي خليج، افغانستان، پاکستان او ځينو نورو موضوعاتو په اړه داسي تگلاره غوره کړې وه چې اړوندو هيوادو او امريکايي ولس دواړو ته د خوابدي او بې ځايه سرخوږي لامل گرځيدلې وه د مثال په ډول افغانستان بو له هغو هيوادو څخه گڼل کيده چې له امريکې سره يې د خواشيني کومه مسأله نه درلوده بلکې تر ډېره ځايه افغانانو د دوستي په سترگه ورته کتل، چې بيا له افغانانو سره د روسي يرغل په وخت د امريکايي ولس مرستو او ملاتړ دغو اړيکو ته لاوده او پراختيا ورکړه او افغانانو هم دا فکر کاوه چې اوس به نو خامخا د هيواد په ودانۍ کی د امريکې له خوا بې په زړه پورې مرستې ورسره وشي، خـو ددې ټولو هيلو او اټکلونو پر خلاف د ښاغلي کلنټن حکومت د آشنايي او دوستي ټولي پولي ونړولي او وچ په وچه يې دښمني او اختلاف ته سر اړم کړ بايد ووايو چې په دې هکله د کلنټن حکومت هيڅ معقول دليل او مجوز نه درلود بلکې د دښمني هر ډول اقدامات يې چې تر سره کړل هسې د تشو پلمو او بهانو په اساس و.

همدارنگه د هند او پاکستان په هکله يې د خپلو مشرانو او اسلافو پر خلاف له پاکستان سره د مودو مودو دوستي په لغته ووهله او د هند خپلو لو هڅه يې پيل کړه چې بيا هم د لس گونو مليونو ډالرو مرستو سره سره هيڅ ډول ترې جوړ نه شول او هند له روسانو سره خپله پخواني انډيوالي لا تودہ او د ملياردونو او کروړونو په بيه د وسلو او نورو سامانو معاملي يې ورسره وکړې . دی ته مو هم بايد پام وي چې هند تر يوه حده د امريکې زړه ساتي خو دا ښايي په امنيت شورئ کی د دايمي غړي په توگه د هند د شموليت له هڅو سره تړاو ولري خـو هر څنگه چې وي په پاکستاني ولس کی د امريکي د مخالفت څپه ورځ په ورځ زور اخلي لا زياتي دا چې د دواړو هيوادو تر منځ د F16 د ولـه الوتکو پخواني معامله هم د ښاغلي کلنټن له خوا د غلې دانې په يوه سودا بدله شوه چې د پاکستان خلک يې د ځان لپاره

لوی پيغور او ملنډې وهل بولي .

پاتي شوي د عربي نړي ستونزي نو هلته خو ټولي پيښي داسي رواني دي چي هيڅکله هم د امريکې د خلکو په گټه نه بلکي يوازي د يهودي متعصبي ټولني گټه او سوکالي پکي خوندي ده بر سيره پر دی د کلنټن حکومت منځني آسيا هم د روسانو واکمني او لاس وهنې ته پريښوده او داسي چلند يې غوره کړ چې ايله يې له روسانو سره مرسته وکړه، لکه څو ورځي مخکې چې يو وتلي امريکايي شخصيت ښاغلي «بارنت روبن» پر دغه ډول سياست نيوکه وکړه او هغه يې په منځني آسيا کی د روسانو له پوځي موجوديت سره په مرسته او ملگرتيا تعبير کړ دا اودي ته ورته هغه کشالي دي چې د نوي جمهور رئيس ښاغلي بوش په وړاندې پرتې او ټولې د کلنټن حکومت په لوی لاس را منځ ته کـړي دي گورو به چې د امريکي نوی مشر تر کومه د انصاف، نړيوالي وروړگلوی او معقوليت په اصولو چلند کوی او په ځانگړې توگه د افغانستان په اړه چې ظاهراً يې ډېره لويه کړې خو په حقيقت کې هيڅ هم نشته نو اوس که ښاغلي بوش د واقعيت او معقوليت تگلاره خپله کړي. د افغانستان اسلامي امارت چمتو دی چي د اسامه په شمول د ټولو موضوعاتو په هکله له امريکې سره د يو داسې حل پلټنه وکړي چې هم د امريکې ولس آبرو خوندي ساتي او داد يې حاصلوي او هم د افغانانو ديني او ملي اصولو ته ځه زيان ونه رسيږي معلوم به شي چې ښاغلي بوش په کومه لاره تگ خوښوي ؟

ملگری ملتونه

که د امريکايي موخو د پلي کولو اجيره موسسه؟

عبدالرحيم «ثاقب»

د معـاصرو نړيوالو لانجو د هواري په اړه هيڅوک هم پدې نه دي قانع چې ملگري ملتونه دې په دې اړه يو اغيزمن رول ولوبولی شي.

له ملتونو راتيولي تر دولتونو پوري آن هغه امريکايي چارواکي چې د ملگرو ملتونو موسسه په بشپړه توگه د خپلو مصالحو د تر لاسه کولو لپاره کاروي ټول ددې موسسې په کړو وړو سياست او اداري باندې اعتراض لري او له هغې څخه نا راضه دي. امريکايي چارواکي دا غواړي چې د نړۍ په گوټ گـوټ کې ددې موسسې له اړوندو ارگانونو څخه د خپل خارجه وزارت د يوې مربوطې ځانگې په توگه کار واخلي.

د نړۍ نور هيوادونه بيا په دې لټه کې دي چې په حتمي توگه دې ددې موسسې په تشکيلاتي او اداري سيستم کې په تيره بيا د امنيت په شورا کې تغيير راشي. ټول په مجموع کې په دې خبره يوه خوله دي چې د ملگرو ملتونو اوسني نړيواله مـوسسه يواځې په نامه نړيواله موسسه ده او د عمل په ډگر کې د نړۍ ستونزي ورته مخکې دي او له ډېرو نړيوالو قضاياو سره د تعامل په وخت کې له بشپړ سياسي، فکري او مذهبي توپير او پلوي توب څخه کار اخلي چې موږ کولی شو د خپلې همدغې ادعا ثبوت لپاره څو څرگند مثالونه وړاندې کړو :

له ۱۹٤۸ ميلادي کـال څخه راهيسې غاصبو يهودانو په فلسطين کی د مسلمانو فلسطينيانو په خاوره باندې په نا حقه قبضه لگولې او هغه يې غصب کړې په هغه برسيره يې په خپل حق د بېر فلسطينيان يا وژلي او يايي له ملکه شړلو ته مجبور کړي . وملگرو ملتونو موسسې د مسلمانو فلسطينيانو په حقه حقوقو سترگې پټې کړې او تر اوسه پورې غاصبو يهودانو ته د مسلمانو فلسطينيانو د ملکيتونو د بېرته ورکولو او د هغوی د نه وژلو په اړه قاطع خبر نه دی ورکړی که يې ورکړی وي خو بيايي د هغه په عملي کولو هيڅ سر نه دی خوږولی.

همدارنگه له ۱۹٤۷ . کال څخه را پدې خوا د کشمير جنجالي مسئله چې د غاصبو هندوانو له خوا هره ورځ په لس گونو مسلمان کشميريان د خپل حق په سر وژل کيږي، بنديان کيږي او وهل کيږي .

ملگرو ملتونو پدې اړه هم هغه موقف غوره کړی کوم چې يې د فلسطينيانو په اړه غوره کړی. خو ددې بر عکس په کال ۱۹۹۹ کې چې د اندونيزيا له مسلمان هيواد څخه د ختيځ تيمور مسيحي اوسيدونکو د خپلواکي اعلان وکړ د همدې موسسې له خوا تقريباً د يوې مياشتې په موده کې د هغوی خپلواکي په رسميت وپيژندل شوه، ختيځ تيمور د يوه مستقل مسيحي هيواد په توگه اعلان شو ولس مشري د همدې موسسې د عسکرو په مرسته له بندي خانه څخه را خلاص او تيار جوړ شوي حکومت ورته وسپارل شو .

په نړۍ په تيره اسلامي نړۍ کې نور هم ډېر داسي شواهد موجود دي چې هالته د ملگرو ملتونو د موسسې په سياسي او مذهبي پلوي توب باندې ښکاره دليل وي. مثلاً د سودان په اسلامي جمهوريت کې چې له څو لسيزو را پدې خوا کورني جگړه روانه ده د ښکاره شواهدو له مخې د همدې جگړې د تازه ساتلو مسؤليت د ملگرو ملتونو په غاړه دی .

د سودان په جنوب کې د باغي مسيحيانو مشر (جولگرنگ) د تمويل او اکمال دنده د همدې موسسې په غاړه ده ځکه همدا موسسه د انساني او اغاثي مرستو تر نامه لاندې په خپلو الوتکو کې هغوی ته هر څه رسوي ددې لپاره چې هالته دجگړې اوربل پاتي شي او د سودان د اسلامي حکومت قدرت ورباندې مصرف شي.

د اروپا په زړه بوسنيا کې چې کله د غاصبو مسيحي صربانو لخوا په يوه خل د سربرنيسکا په مسلمان ميشته ښارگوټي باندې تيری وشو او نږدې ديرش زره مسلمانان يې په شهادت ورسول د همدې زره بوونکې پېښې مسؤليت نيغ په نيغه د ملگرو ملتونو موسسې ته راجع دی ځکه چې دا پېښه د ملگرو ملتونو د سوله ساتو ځواکونو ... واقع شوه چې په هغه ... کړ ... دي لوا ور مسؤليت د ملگرو ملتونو د اوسني سرمنشي کوفي عنان په غاړه وه . ددې پېښې د قتل عام خبره خپله دده لخوا بطروس غالي د ملگرو ملتونو پخواني سرمنشي ته ورسول شوه هغه يې لدينه چې د صربانو په مقابل کې کوم جدي عمل وکړي په خپل مسؤليت او بيوسي يې اعتراف وکړ او بس.

په اخـير کې به راشـو او د افغانستان په اړه به د ملگرو ملتونو د موسسې موقف وگورو .

نږدې له دوه لسيزو راهيسې دغه هيواد د تحميل شوي جگړې په اور کې سوځيږي د جگړې له امله يې ټول اقتصادي مواد له منځه تللي په هغه برسيره په دې دوو د ريو کالو کې د وچکالۍ آفت هم وربانډې اضافه شوی په داسې يوه ويرجن حالت کې د انسا ... مقتضياتو له مخې هر چانه دا يکار وه چې يو ځل ددې ويجاړ هيواد له اوسيدونکو سره مرسته وکړي هغوی ته له تدريجي مرگ نه نجات ورکړي او بيا ورسره نور مسايل مطرح کړي خو ملگرو ملتونو ددې انساني غوښتني پر خلاف ددې هيواد په دې نازکو شرايطو کې خپل ټول امکانات ددې لپاره په کار اچولي چې دلته د جگړې اور نور هم بل پاتي شي تر څو يې خلک سره وخوريږي او بيا په اخير کې دي نه تسليم شي چې د هـمدي سرمنشي د پاڼ ... په مخې هر ...

... زل ومني، زموږ ددې خبرې سکاره دليل پدې موسسې کې ددې هيواد د يوه محدود شمير مخالفينو په رسميت پيژندل دی او همدارنگه د هغوی د قـوی او ژوندي ساتلو په غرض په افغانستان باندې د امنيت شورا لخوا يو طرفه تعزيرات لگول دي د داسې يوه نظام په مقابل کې چې هغه د هيواد د ۹٥ فيصده اوسيدونکو لخوا د تاييد وړ وي. د يو محدود شمير مخالفينو پر رسميت پيژندل او هغوی ته له بهر نه د پوځي سامان الاتو د تر لاسه کولو اجازه په خپله په دې هيواد کې د جگړې د جاري ساتلو نه ماسوا په بل هيڅ شي نشوی تللقي کيدی. دغه تعزيرات په لومړي ځل کې د روسي او امريکايي چارواکو لخوا طرحه او بيا د همدې موسسې د سرمنشي او د ځينو نورو غړو د رايو خلاف د امريکايي مقاماتو د فشار له وجې په افغانستان باندې نافذ شول لندن دا چې پورتني ذکر شوي اسناد او شـواهد ددې څرگند دليل دی چې د ملگرو ملتونو مـوسسه نړيواله موسسه نه بلکې د مغرضانه اهدافو د پلي کيدو لپاره يوه امريکايي پلوي اجيره موسسه ده .

د نړۍ مسلمانان او ټول مستضعف اولسونه که وغواړي چې خپلي اړوندي قضياوي بې په عادلانه توگه په خپل وخت حل شي بايد ددې اجيرې موسسې له انحصار نه يې خلاصه د يوې نړيوالې قانوني او جامعي مرجع په لټه کې شي، او يواځې د هغې له لارې دې خپلې اړ... ... دې حل کړي.

له بنديزو سره به څه کوو؟

فاروق

حقيقت دا دی چې نن سبا گرده نړۍ يوازې د امريکي رحم او کرم ته پاتې ده چې دا دې په دې لړ کې که څه کيږي يا خوشاليږو په افغانستان باندې يې هم يو شمير بنديزونه ... کړل او ښايي لا نور هم زيات شي ... اوس چې موږ افغانانو ته څه راپيښ دي بايد د عقل او استدلال په چوکاټ کې يې د مقابلې لاری چاري ولټوو . له بې ځايه جذباتي کيدلو او جوش خوړلو نه د واقعيت او هوش نتايج غوره وي او د غرور او خوش باوری نه اټکل او تدبير ډېر اغيزمن وي نو راځي تر هر څه مخکې د خپل لوی لارښود حضرت رسول الله صلی الله عليه وسلم تاريخ ولټوو . هغه مهال چې د احزاب په جگړه کې د ټـولـي ټول بې دينه او مشرک قوتونه د مسلمانانو په نوغې و بيستو پسې را ووتل او د پيغمبر عليه السلام اسـلامي دلې ته له هغوی سره د مخامخ جگړې امکانات سخت وبريښيدل نو سمدلاسه يې د مدينې منوري په چاپير چل کې دخندق کيندلو طرحه جوړه کړه . کومه چې په هغې زمانه کې يوه مؤثره حربه وه . داچې پيغمبر عليه السلام په هغه وخت کې کارونه يوازې معجزي ، کرامت او دعا گانو ته نه پريښودل . بلکې په خپله يې په داسې حال کې چې دلوږی له لاسه يې په گېډه تيږې تړلې وي ديبل او کودالي په ذريعه دخندق کيندل پيل کړل . زموږ لپاره يو لوی پند او عبـرت دی . تر څو اسلامي امت هم تل په دغسي مهال په ډېر معقوليت سره مناسب او اغيزناک تدبير جوړ او له دښمن سره مقابلې ته د دا ورکړي . اوس چې امريکا ، روسيه ، هند او ملگري يې هم په افغانستان کی د يو اسلامي نظام د واکمني خنډولو په تکل هلي ځلي کوي ،غواړي په اقتصادي ډگر کې زموږ هيوادوالو ته ستونزې پيدا کړي . د کورنۍ جگړې لپاره ځيني نو کسري اوپردي پالنه ولي وهڅوي ، په راز راز تبليغاتو د پانگې اچونې مخه ونيسي ، خلکو ته وخت په وخت د هوايي او توغندويي بريدونو په گواښ سره تشويشونه ور واچوي او په دې ډول د ژوند په هر ډگر کې د انکشاف او پرمختگ مخه ونيسي او په هيواد مو فقر ، جهل ، ناروغي او بل د وله نور مصيبتونه مسلط کړي . تر څو بالاخره عام ولس دا فکر وکړي چې ښايي دا ټولي کشالي د همدې نظام زيږنده دي او دا شان د خلکو په تنگولو سره هغوی له خپلو ټولو ديني او اخلاقي ارزښتونو بې رغبته او د لوبديځ کرغيړن ثقافت ته مايل کړي. نو په همدې اساس بايد هر خوا خوږي او هيواد پال افغان په دې اړه ژور فکر وکړي چې د نړۍ د دغسې سلوک او ټيل شوي بنديزونو سره به څرنگه مقابله کوو . نو داچې د بنديزونو اصلي موخه همدغه اقتصادي ستونزې زيات ول دي نو څکه موږ هم بايد تر ټولو زيات د خپل هيواد لومړنيو اړتياوو او عام اقتصادي پرمختگ لپاره کار وکړو . دا هم يو څرگند حقيقت دی چې که اقتصادي ستونزو ته مناسب حل ونه لټول شي ايي د هيواد نظم او ثبات ته سره پر زيان ورسيږي او ښايي په ولسونو کې دتهبلي او خوابدي احساس څواکمن وله کنترولـه ووځي چي بيا به يې چاره کول ډېر گران وي . داهم بايد ووايو چې دهيواد لومړنی اړتياوي پوره کول په عام اقتصادي انکشاف کې بېخي لومړۍ درجه لري . داځکه چې پرته له هغو په ابتدايي ډول په هم ژوند کولو امکانات موجود نه وي له هيواده دخلکو کوچيدل او نوري خطرونه کي بشري فاجعي رامنځ ته کولای شي . په دې لړ کې له خوراکي بلوا په ځان بسيا کيدلو لپاره د ځمکو او کرني اصلاحات يوه ډېر مهم گام دی که شاړې ځمکې ودانې او په خلکو وويشل شي نو له يوې خوا به وزگارو خلکو ته مناسب کار ونه پيدا شي او له بلې خوا به د هيواد غلې دانې لومړنۍ اړتيا پوره شوې وي .

همدارنگه د تيلو استحصال او تصفيه چې د خدای فضل دې په هيواد کې يې زيرمي لري ، هم د اساسي اړتياوو له جملې شمېرل کيږي او په هر قيمت چې وي بايد په دغه اړتيا کې هم تر ډېره بريده ځان پوره کړو . زموږ يو بل مهم طبيعي ثروت د فلزاتو او قيمتي غمـو او ډېرو معدنونه دي چې د هيواد په گوټ گوټ کې پيژندل شوي زيرمي لري او بايد موږ هم له دې زيرمو څخه په جديت او پياوړتيا کار واخلو . په دې ډول کولای شو هم د دښمن د شومو پلانونو اغيزي کمې کړو او هم په ښه ډول خپل استقلال او حريت وساتو . برسېره پر دې دښمن ته به هم گرانه وي چې زموږ د هيوادوالو د بې لاري کولو او لسمونو په هکله کې څه بري ورپه برخه شي او ښايي بې زړه ... پرېږدي بولاس وهنو لري پای ته ورسيږي . نو بايد ووايو چې ظاهراً د عقل او اسبابو له مخې د دښمن له بنديزونو سره د مقابلې لپاره به نه ستړي کيدونکي ډول د هيواد د اقتصادي ميزانزي او لومړنيو اړتياوو پوره کولو په لړ کې شپه ورځ په پروگرام کي ... عمل په کار دی او ښايي ټول افغان ولس په ډېر اخلاص

او ملي روحيه په دې هکله کار وکړي، ستونزي وگالي او لا هم اغيـزمنو او گټـورو پلانونو باندې غور او څېړنه وکړي.

متصدي صفحه: محمد رفیق "عزت"

د شعر او ادب نړۍ

چي کشور د افغانانو معطر کا
د هر بیت مصرع مې زلفې د خوبان کړي

یو نوی کتاب

دنړۍ هنداره لومړی ټوک آسیا - دهغه کتاب نوم دی چي د ښاغلی احسان الله آریزی په لیکنه او ښاغلی امام الدین ساپي په زيار اولګښت په پېښور کی چاپ او خپور شوی دي. داکتاب چي د آسیا لویی وچی د «٤۹» هیوادونو په مفصله پیژندنه یکی راغلی، تقریباً د خپل ډول لومړی یوځ اومستند کتاب دی چي په معیاری پښتو لیکل شوی دی. که څه هم په دی کتاب کی د هیوادونو هر اړخیزه څیړنه چي طبیعی، سیاسی، اقتصادی اوتاریخي اړخونو ته په کې ځانګړې پاملرنه شوې ده، ترڅو دنړۍ دنورو هیوادونو او یا دهمدې کتاب بل وار چاپولو کی د پرمختللو هیوادونو فوق العاده خواوی لکه دساینس، پوهنی اونورو اقتصادی ششنیو په هکله پرلاسی او د هغوی د پرمختګ رازونه لې نورهم ښه وڅیړل شي، دا به زموږ د ګړندي ولس د پرمختیا او هڅونی لپاره ښه لارښود وګرځي.

د ښاغلی لیکونکی د لا بریالیتوب او پرمختګ په هیله.

غلام سرور «زارع»

ای وطن ای کشور محبوب من
مهد من مقصود من مطلوب من
میهن من مسکن ومأوای من
شهر من کوه من ودریای من
دوست دارم من ترا ازجان ودل
ای تونی گلدسته زیبای دل
من بنازم گلشن زیبای تو
نغمه های بلبل شیدای تو
خاك توبر دیده من توتیا ست
جلوه گاه تو نظر گاه خداست
آبشارت روح میبخشد بمن
هر نسیم کوی توجانم به تن
من فدای دشت ودامانت شوم
گرتوخواهی من بقربانت شوم
باغ وبوستانت بود رشك چمن
سوسن ونسرین وریحان وسمن
ای وطن ای پرور شگاه همه
بودو باش مسکن وجاه همه
کشور ما کشورمرد آفرین
گلشنت شد رشك فردوس برین
کی توانم بیش از این وصف وبیان
زانکه گشته زارع ما ناتوان

پېزلې پانې

«محمدرفیق «عزت»

خوږه یوه نغمه وه په سیتار نه مړېدم
دسترګو په جګړه کی په خپل وار نه مړېدم
تیاره نه په رخصت نور د سپوږمی کلی ته راغلم
دزلفو نه راکوز شوم په رخسار نه مړېدم
سیلیو دغوټی په شونډو اېښی ولاسونه
ګلونو چی خوله واکړه په بهار نه مړېدم
پرون می مروندو کی د پېغلو تودی لیدلی
دسرو اوشنو بنګړیو په شرنګار نه مړېدم
غرمو نه ده مابیا اته په پېزلو پانو راغلم
شپنه می غیر کی ونیوه خمار نه مړېدم
«عزت» ورته لا دوی سترګی په پور ربیار نه راوړی
لالی می نبا بسته ؤ په دیدار نه مړېدم

د سهار لمر

«امیرجان وحید» احمد زی»

له داره تښتی اوله داره وځی
دمرګ استازی مړوله چاره وځی
پوځو بد رنګو تړون کړی دی ښکلا لوټوی
چاپیر سپوږمی نه واړه ستوری له مداره وځی
په وار کشومی دیار سترګوزړګی داسی کړلو
نه وا چی توره دمومن ده له ښاماره وځی
دتنکی مینی راز نوڅه پوښتی همداسی بوله
سوی نغمی چی دسیتارله هره تاره وځی
دا تیرژوندون می واړه تیر شولامی نه موندله
چی د اشنا ظالم زړګی ته کومه لاره وځی
دسهار لمر هم شوخ نظردی سترګی نه اړوی
نه چی اشنا خماری سترګی دی له کاره وځی

پوهیالي لیلما «یما»

۱۵ شرح منظومهء عروج و نزول اسلام

گذشته پر افتخار و وضع تأثر انگیز امروزی

استعمار، عامل غفلت مسلمین

بند ٥۹:

چون به افسون اجانب اتفاق ما نماند اتحاد و اخوت از ما یك قلم دامن فشاند
کاهلي و تن پرستي سوي خود مار کشاند ریشه، خود را به ما عیاشي و غفلت دواند
روح فعالیت و جراري و بخش به کار کرد همچون قوه، عزم و ثبات از ما فرار

شرح: شاعر در این بند شکوه و شکایت از آن مینماید که چگونه مسلمانان به اثر توطئه بیگانه گان و استعمار اتحاد، اتفاق، همدلی، برادري و برابري را از خویشتن دور نمودند و از خصوصیات عالي انساني و اسلامي فاصله گرفتند و کاهلي و تن پرستي و عیاشي و غفلت آغوش گشوده، مسلمانان را به سوي خود فرا خواند و در وجود مسلمین ریشه هاي خود را دواند و در نتیجه روح فعالیت و کوشش و تدبیر و عمل مانند قوه عزم و ثبات و استقامت از وجود ما مسلمانان فرار کرد.

استعمار این مسأله را درك کرده است که فقط از یك راه میشود جلو ترقي و تکامل مسلمانها را گرفت و آن ایجاد تفرقه در میان مسلمین است. همین است که مسلمانها را از همدیگر قلباً دور ساختند در نتیجه از قوه، ابتکار مسلمین نیز اندك اندك کاسته شد و آهسته آهسته مسلمانها از حالت مولدي بر آمدند و به مصرف کننده صرف تبدیل شدند و روز به روز از عرصه تکامل دور گردیدند و باز هم به اثر تعلیمات غیر مستقیم استعمار به دستاورد هاي علمي به دیده، شك نگریسته و به آن انگشت رد گذاشته اند و نظام هایی که خواسته اند اصلاحاتي را در خود پدید بیاورند در ابتدا استعمار مانع آن حرکت شده و اگر عمل شان کارگر نیفتاده نیرو هاي اصلاح طلب در آن نظامها را از میان برداشته اند چنانچه امپراطوري ترکیه عثماني که آخرین امپراطوري اسلامي بود و داراي قدرت نظامي و سیاسي فوق العاده نیز بود چندین بار تصمیم گرفت تا از لحاظ علمي و اداري یك سلسله اصلاحاتي را در خود پدید بیاورد و خود را با کاروان ترقي و پیشرفت علمي همهنگ گرداند اما نیرو هاي استعماري که از جانب سیستم استعماري و استکباري جهاني در میان آن آگاهانه جابه جا گردیده بود آنها با این حرکت سالم آنها مخالفت ورزیدند سر انجام وقتي دیدند که مخالفت شان نتیجه نمیدهد چنان زمینه را فراهم کردند که امپراطوري اسلامي روز به روز ضعیف شده به کلي سقوط کرد و بعد از سقوط امپراطوري ترکیه عثماني جهان اسلام نتوانست تا امروز چنان یك امپراطوري را به میان بیاورد و به عنوان یك ابر قدرت در جهان عرض اندام نماید.

استعمار عامل تفرقه در میان مسلمین

بند ٦۰:

دشمنان ما بر افگندند بین ما خلل با هزار افسون و مکر و حیله و ریو و دغل
تا به سان مهره، شطرنج آمد در عمل در میان ما تمامی شیوه، جنگ و جدل
بی نشان گشتیم زانرو از نظر ها چون نگه گم شدیم اندر محاق نامرادي مثل مه

شرح: دشمنان اسلام در میان ما مسلمانها با انواع و اقسام مختلف، حیله و نیرنگ و ریب و اختلاف را به میان آوردند و مانند مهره هاي شطرنج به ذرایع مختلف ما را به جنگ و جدل میان هم رهنمایی و رهبري کردند و در نتیجه، همین اختلاف و جنگ و جدل بود که ستاره، طالع و بخت ما مسلمانها در محاق قرار گرفت و افول کرد.

قسمي که در بالا شاعر اشاره نموده است به واقعیت یك تعداد مسلمانها هستند که از خود استقلالیت فکري ندارند و مانند مهره هاي شطرنج از جانب استعمار بر ضد خواهر و برادر مسلمان و هم کیش و همدیش استعمال میگردند در نتیجه هر دو جانب تضعیف شده و استعمار به کام دل میرسد. طور مثال مردم مسلمان افغانستان اعم از مرد و زن، پیر و جوان با آواز ملکوتي الله اکبر بر ضد سیستم استکباري و کمونستي شوروي وقت قیام کردند و بیش از یکنیم ملیون شهید دادند وقتي در سال ۱۳۷۱ هـ ش انقلاب اسلامي در افغانستان به پیروزي رسید و دامن کفر و کمونیزم نه تنها از افغانستان بلکه از همه، جهان برچیده شد به اثر دسیسه استعمار مسلمانها بین هم بخاطر قدرت و چوکي در افتادند که استعمار بدبخت در میان شان وظیفه هیزم کش را بر عهده دارد و مجمر جنگ و نفاق را شعله ور نگهمیدارد در حالیکه اگر مسلمانان کشور ما به خود آیند و به گونه هاي کثیف استعمار تف و لعنت بفرستند و با همان نعره، ملکوتي الله اکبر دور نظام اسلامي خویش جمع شوند میتوانند افغانستان آزاد، مستقل، مرفه، آرام و مسلمان را به جهانیان معرفي دارند و دین خود را در برابر خدا «ج» و رسول برحقش ادا نمایند.

سعی و عمل دیروزی و کاهلی امروز

بند ٦۱:

میگذشتاندیم تا اوقات با سعي و عمل مشکلات خود به زحمتها همیکردیم حل
است شهرت نام ما در روي عالم بي بدل در علوم و در فنون محتاج ما بوده ملل
تا به کار کاهلي و تنبلي پرداختیم همچو دیوار به پا بنشسته خود را باختیم

شرح: تازماني که ما مسلمانها لحظات خود را با سعي و کوشش سپري میکردیم و مشکلات و پرابلم هاي خود را خود حل میکردیم، نام و شهرت ما در روي عالم بي مثل و مانند بود و تمام جهانیان محتاج علم و فن ما بودند و اما با تأسف از زماني که به کاهلي و تنبلي تن در دادیم، از مقام و حیثیت ما در جهان کاسته شد و مانند دیواري که تهدابش فرو رفته باشد و خود ته نشین شود و دیگر کسي به آن دل نبندد ما هم ریشه، خود را از دست دادیم و از اعتبار ما در جهان کاسته شد.

اسلام با تنبلي و کاهلي سر سازگاري ندارد، انسانهاي تنبل، کاهل، غافل، تاریك و جاهل چون علفهاي هرزه یي اند که در پهلوي دانه هاي مثمر میرویند و از آنها تغذیه میکنند و عرصه را براي تکامل دانه سالم تنگ میسازند بناً سرنوشتي جز خوشاوه کردن ندارند و باید از جمع دانه هاي مثمر دور ساخته شوند.

بی اراده گی عامل انحطاط

بند ٦۲:

تا زمین گیر این چنین از بار ذلت گشته ایم تا که دور از التفات عزم و همت گشته ایم
تا جدا از ساکنان ملك غیرت گشته ایم تا اسیر چنگ و ناي و عیش و عشرت گشته ایم
جانب اغیار ما کرد ارتقاي ما سفر غیرت حسرت خوردن اکنون نیست کار ما دگر

شرح: زماني که افکار ما فلج شد و از لحاظ فکري زمین گیر شدیم، بار ذلت و پستي به دوش ما افتاده است. چرا که ما از عزم راسخ و کوشش و التفات هم دست برداشته ایم و از افراد غیور نیز مجزا شده ایم و اسیر پرده هاي ساز و سرورد و عیش و نوش گشته ایم و روح کار و فعالیت و تحرك را از دست داده ایم بناً، ترقي و پیشرفت ما و افکار بلند و مترقي ما به طرف بیگانه گان سفر کرده و حالا جز حسرت خوردن کاردیگر نداریم.

زماني که اسلام در شرق ظهور نمود ملل مسلمان به اثر تعلیمات اسلامي به اوج ترقي و تکامل رسیدند گذشته از آنکه از قدرت نظامي و سیاسي عظیمي برخوردار بودند قدرت علمي و فکري بي نظیري نیز داشتند. اما زماني که اکثر مسلمانها دامن سعي و کوشش و تعلیمات حقیقي اسلام را رها کردند، قدرت مادي و معنوي مسلمانها به سوي غرب سفر کرد و امروز مسلمانها ریزه خوار سفره غربیان گشته اند و جاي تأسف است و صد تأسف که غرب در مورد سرنوشت شان تصمیم میگیرد!

ادامه دارد

پایان شب

جبلی

شب به پایان رفت وبوی صبحگار آمدپدید مرغ بی پر از سیاهی رستگار آمد پدید
در زمین آرزوها تخم غم گل کرده بود ما به آن شاکر که گل برجای خار آمد پدید
جامه ها ازتن بدرشد رفت در بازار زور از پس هم شامهای پرغبار آمد پدید
ملك آبادی فرو افتاد تا فرجام کار فضل ورحمت از طفیل کرد گار آمد پدید
حکم و دستور الهی از رخ ورنگ شفق جلوه گر اندر دل شب های تار آمد پدید
پا ور در آتش محنت خلیل زنده گی از فضای لطف حق گل بیشمار آمد پدید
زخم ناسور جگر ایشان پرستاری نداشت مرهمی بر زخم وقلب داغدار آمد پدید

شد زمان فتنه انگیزی «جبلی» شاد باش
صفحهٔ دیگر به روی روزگار آمد پدید

هنوز

محمدحنیا «کوشا»

هنوز خون شهیدان ما نخشکیده
به دشت جانبازی
هنوز نعره تکبیر بی اثرنشده
هنوز کودك دیروزه ما به یادش است
که شد سوار توپ وتانك غول پیکرتو
هنوز بوتل تیزاب وتیل وصابونش
میان شاخ درختان زیر گردنه است
هنوز ... ش ما ست زیر خاکستر
که ... ره به سرت ریخته بود ازپر چال
هنوز کوزه آبم به سنگر، آبش است
هنوز چقمق وباروت ما به طاقچه است
هنوزخنده به لب های زخم پشت تو است
هنوز موزه افتاده ات به وقت فرار
به کوچه های دلبران پی جفتش
سوار توسن بد نامی است، سرگردان
جبینت ازعرق شرم هنوز مرطوب است
بگوکه شد همه یکدم چسان فراموشت!
که باز کله پوچت هوای جنگم کرد؟
که بازشیشه ننگت هوای سنگ کرد؟

مست اباسین

زلمی «مینه پال»

اباسین مست دی او موجونه وهي
سپین غرمودنګ اوشملور ولاړ دی
سپین بازان ناست په دنګو دنګوڅوکو
شپونکی دژوند خوږه شپېلی غږوی
زمونږد کلی چنارونه له نیشترو سره
دژوند خوږه سندره بیا پیل کړی
خوته!
خوته خوبونه وینی
ښکاری چی زخم دی روغ شوی پټی وشلیدلی
چی لړی لړی بیا ګوابونه کوی
مړه!
که داخل بی ګودره په اوبو راګیشی
مخ به دی ګوره په غابښو کی بوسم
درنه به سترګی په نیزو کی بوسم
«بیادی دادا نه چاره ورکه چی راځینه»

پولادی عزم

دواخان «مینه پال»

ژوندی احساس می دغلیم په مرچلو وختی
پولادی عزم می دژوند په کړلیچو وختی
چی عقیده یی دالله په وحدانیت ټینګه وی
ګوره عیسی «ع» نن داسمان په کنګرو وختی
دهرظالم اوهر جابر مخ ته یی سپر کړه سینه
داچی بلال نن د آذان په منبرو وختی
تورزندانونه دوحشت یی ... دړی وړی کړه بیا
طالب زلمی پاس په کابل په تکبیرو وختی
چی په ناره دانا الحق منصور په دار پورته شو
نوم اونښان یی دسپوږمی په انګو وختی
چی صدقه یی کړلی وینی داسلام په نامه
رنګین بیرغ دشهیدانو په قبرو وختی
دابی احساس دی پارولی ملالی په لنډی
غازی ایوب چی دانګریزو په پوځو وختی
زماه مینه پاله، چی شعری احساس دی وخوځیږی
بیادی قلم په مستو مستو ترانو وختی

دستگاه ساختمانی بنایی...

بنایی حریق وغارت وسایط ترانسپورتی وسامان آلات ساختمانی میباشد .

بعد از تأسیس امارت اسلامی افغانستان وتوجه خاص مسئولین د بعلاح کارگران وانجنیران ریاست دستگاه ساختمانی بنایی توانسته است آنعده پروژه هائیکه قبلاً به رکود مواجه بود فعال وپروژه هائیکه غیر فعال بود قسماً فعال سازد که کار پنج پروژه ما تکمیل وبه بهره بر داری قرار گرفته اند که از آنجمله پروژه اساسی مارکیت شاروالی ولایت خوست .

پروژه ترمیماتی بونت ترویجی پغمان ، پوسته خانه صنایع کوچك ،پروژه ترمیماتی ولایت ننگرهار وفارم مرغداری جنگلك رانام برد وکار دیگر پروژه ها انشاء الله عنقریب تکمیل وبه بهره برداری سپرده خوا هند شد .نامبرده علاوه نمودند : دستگاه ساختمانی بنایی بتعداد «۱٦» پروژه خورد وبزرگ رازیر کار دارد .پروژه های مذکور بافیصدی قابل ملاحظه پیشرفت نموده که ذیلاً توضیح داده میشود : پروژه ترمیماتی رادیو صدای شریعت که کار آن مطابق بونت کاست سال «۱٤۱۹» بوده و ۹۰٪ کار آن پیش رفته ومتباقی کار بالای آن جریان دارد . همچنان تعمیر رهایشی تهیه مسکن که کار آن به اساس بونت کاست سال ۱٤۱۹ آغاز گریده و ۹۰٪ کار آن پیش رفته وعنقریب به بهره برداری قرار خواهد گرفت .

پروژه ترمیماتی تعمیر پولی تخنیك کابل به صورت تمام شدجمع مفاد قرار داد شده وکار بالای پروژه متذکره جریان دارد

تعمیر اداری وزارت پلان ومرکز گرمی آن وزارت نیز توسط این دستگاه ترمیم وبازسازی گردیده است .

تعمیر اداری مرکز بنایی که یکمقدار کار آن پیش رفته وکار بالای آن جریان دارد .

تعمیر اداری مقام ولایت میدان وردك تمام شد جمع مفاد که کار آن «۲۵» ٪ پیش رفته و فعلاً نسبت سردی هوا کار پروژه متذکره معطل وبامساعد شدن هوا کارآن دوباره آغاز خواهد گردید، قابل تذکر است که پنج پروژه دیگر مانند بیز تولیدی تهیه مسکن واقع پلچرخی ،پروژه ترمیماتی پاما ، تعمیر افغان فلم وپروژه ترمیماتی اداری بسهای برقی، سندبوی پل باغ عمومی،

تعمیر موج کوتاه وموج متوسط واقع پلچرخی تحت کار قرار داشته وعنقریب به بهره برداری قرار خوهد گرفت . قابل یاد آوری است که موسسه ماطی ۹ ماه گذشته سال جاری مبلغ «۱۰٬٤۲۵» ملیارد افغانی رادرمقابل خدمات انجام شده خویش کمایی کرده است که از این جمله یك اندازه پول بالای موسسات فرمایش دهنده باقی مانده که بعداً به حساب تصدی انتقال داده خواهد شد. وی می افزاید :دستگاه ساختمانی بنایی از ابتدا تأسیس الی اکنون برعلاوه ده ها پروژه خورد وبزرگ بکتعداد پروژه های دیگر را نیز کار نموده است مثلاً : تعمیر بزرگ ستره محکمه ، تعمیر وزارت محترم پلان ،تعمیر اداری شورای وزیران ،تعمیر اداری استخبارات ،بانك خون ، تعمیراحصائیه مرکزی، وتعمیر ساختمانی بنایی که فعلاً مورد استفاده قرار دارد .

موصوف اضافه کردند : بر علاوه اعمار موسسات اماراتی دستگاه ساختمانی بنایی توانسته که یکتعداد مساجد رادرشهر کابل ترمیم وبازسازی کند که کار آنها قبلاً تکمیل ومورد استفاده قرار داده شده است که ذیلاً از آنها نامبرده میشود.

بازسازی مسجد پل خشتی به شمول آبرسانی آن وضوخانه های مسجد جامع شاه دوشمشیره علیه رحمة ومسجد شریف مکروریان سوم به صورت اساسی ، مسجد جامع محمد مصطفی «ص»ومسجد شریف جامع کارته پروان .

پلان کار دستگاه ساختمانی بنایی به اساس پلان مالی سال ۱٤۲۲ روشن میگردد آنعده پروژه هائیکه به دستگاه محول میگردد بعد ازطی مراحل پلان حجم کار که ازطریق وزارت محترم پلان به دسترس ماگذاشته میشود البته بیشتر ازسال ۱٤۲۱ انجام خواهد شد تصدی ما باموجودیت وسایل ووسایط وپرسونل مجرب وفنی خویش درمرکز و ولایات که به «۲۷۵» تن میرسد سهم شایسته را درعمران وباز سازی کشور داشته اند دستگاه ساختمانی بنایی یکتعداد ازشاپ های نجاری که باماشین های مدرن نجاری مجهز بوده شاپ تخنیکی ودستگاه های تولیدی خشت بگرامی نسبت نداشتن برق غیر فعال بود که با تأمین مجدد برق کار آن دوباره آغاز خواهد گردید.قابل یاد آوریست که برعلاوه مرکز در ولایات زون شرق وغرب دستگاه مانمایندگی های فعال را نیز دارا میباشد .

مصاحبه کننده
عبدالبصیر «شاکر»

رئیس محکمه بین

هاگ میگوید که جنایت کاران جنگي در جنگ هاي بوسنیا ، هرزگوینا به شمول رادوان کارازیچ و راتکو میلاویچ بطور منظم به بلگراد رفت و آمد میکنند واسیلاکتونیتسا رئیس جمهور یوگوسلاویا موافقه کرده است که با این حارنوال محکمه بین المللي دیدار و گفتگو کند و سرنوشت سلوبودان میلوسویچ رئیس جمهور سابق آنکشور را که به جنایات جنگي متهم است با وي مورد بحث قرار دهد .

محکمه بین المللي خواهان است که سلوبودان میلو سوویچ رئیس جمهور سابق یوگوسلاویا در محکمه بین المللي مورد باز پرسي قرار گیرد ولي رئیس جمهور فعلي یوگوسلاویا میخواهد که وي در یك محکمه ملي محاکمه گردد.

در جزیره ایکوادور

نطاق ریاست جمهوري ایکوادور همچنان وعده داد بخاطر باز سازي محیط در جزیره مذکور کمك هاي همه جانبه صورت میگیرد قرار گزارشها با وصف تلاش هاي گسترده بخاطر جمع آوري نفت منتشر شده دو صدو پنجاه هزار گیلن نفت که در تانکر ها موجود است به خاطر خرابي تانکر ها به ریزش در بحر ادامه میدهد.

در مدرسه عمار...

محمد حنیف حایز مقام دوم و محترم قاري شاه محمد حایز مقام سوم گردیدند.

در ختم مسابقه براي طالب ممتاز تحفه ایکه از جانب مدرسه مربوط ترتیب شده بود اهدا گردید.

جلسه بررسي ...

و قرار داد ها توظیف گردیده بود دیروز تحت ریاست محترم ملا نور الدین ترابي وزیر عدلیه و به اشتراك محترم مولوي نجیب الله حقاني معین وزارت مالیه ، محترم مولوي حمد الله نعماني شاروال کابل ، محترم مولوي عزت الله حقاني معین وز ارت پلان، محترم مولوي عبدالسلام حقاني معاون ریاست عمومي اداره امور در حالیکه اعضاي مسلکي وفني ارگان هاي مربوط نیز حاضر بودند تشکیل جلسه داده روي موضوع خریداري ها و قرار داد ها غور و بررسي دقیق نموده ضمن اتخاذ تصامیم نتایج کار شانرا جهت ارائه به مقام ریاست الوزرا آماده ساختند.

امریکایي اردو په ...

بوی الماني ورځپاني دغه موضوع د المان دفاع وزارت دبوه وبندوی له خولی خپره کړیده .

ددغی ورځپانی رپوټ ددی ".ګندوی دی چی په دغو زرهپوشونو کی د اورلګیدنی او یا د ټکر په صورت کی د هغو د سپرلیو سرتیرو روغتیا له خطر سره مخامخ کیږی.

داروپا د ټولنی د غړو هیوادونو د بهرنیو چارو زیراتو په رسمی ډول له یورانیم لرونکو فشنګونو څخه د استفادی له امله د رامنځته شویو خطرونو د مخنیوی غوښتنه کړیده .

په ننګرهار کي ...

مبارت سره په بوی لاری کی ځای په ځای شوی و ددغه ولایت د بهسودو د پله په سیمه کی کشف او ونیول. قضیه تر تحقیق او څیړنی لاندی ده .

د زرمت ولسوالي ...

ناروغانو د ګټی اخیستنی ور وګرځید.

دغه روغتیایی مرکز د داخله ، جراحی، ماشومانو ،اکسریز ، لابراتوار او د زړه د ګراف د اخیستلو د سرویسونو او د مجربو داکترانو په لرلو سره شپه او ورځ د ناروغانو په خدمت کی دی. دغه روغتیایی مرکز د پکتیا ولایت د عامی روغتیا د رئیس محترم مولوی اختر محمد رحمانی لخوا په داسی حال کی چی ددغه ولایت بو شمیر چارواکی هم حاضر و پرانستل شو . د زرمت ولسوالی روغتیایی مرکز د عامی روغتیا وزارت له خوا په طبی وسایلو او تجهیزاتو سمبال شویدی.

د جاپان د کابینې ...

ده . دی د یو سلو دیرشو زرو ډالرو بډو په اخیستلو تورن دی. ده اعتراف وکړ چی دغه پیسی یی د خپل منشی لخوا تر لاسه کړی وی خو بیرته یی ورکړیدی.

د اروپایي ...

صحی داروپا د ټولنی د غړو هیوادونو د بهرنیو چارو وزیرانو دغه راز په بروکسل کی د خپلی غونډی په ترڅ کی ژمنه وکړه چی په ټوله نړی او په تیره بیا په اروپا کی به د ناتریخوالی اونښتو د مخنیوی لپاره له سیاسی او اقتصادی او ان پوځی نفوذ څخه کار واخلی.

د اروپا د ټولنی د غړو هیوادونو د بهرنیو چارو د وزیرانو په طرحه کی د نړیوالو ماموریتونو لپاره د پوځی ځواکونو د پیاوړتیا او د پنځه زره تنو سرتیرو د استولو لپاره د تیاری او دغه راز د نړی په بیلا بیلو سیمو کی د نښتو د مخنیوی لپاره د بوه چی د سولو اټکل شویدی.

په چین کې د ...

دغه مقناطیسی لاره چی دری دیرش کیلو متره اوږدوالی لری د شانګهای هوایی ډګر ددغه ښار له مرکز سره نښلوی.

په المان کی ددغه شان مقناطیسی لاری تخنیک بوازی په بوه ازمایښتی ټګلوری کی په کار اچول شویدی.

دالمان دولت اعلام کړیدی چی د سر ملیونو مارکو په ورکولو سره په شانګهای کی ددغی لاری د جوړولو د پروژی ملاتړ کوی.

د مخالفینو په ...

د مخالفینو ددغو پوځی تحرکاتو بیکاره ثبتی د جبهی په لومړیو کرښو کی هم لیدل کیږی.

د بادونی ور ده چی په دی ورستیو کی له مخالفی ډلګی نه بوه را بیل شوی قوماندان «عبدالله ګارد» چی د خپلو دوو سوو وسلوالو ملګرو په شمول د اسلامی امارت له مجاهدینو سره یوځای شوی پورتنی خبری تایید کړی او ویلی یی دی چی د مخالفینو په لیکو کی د روسی، هندی او ایرانی مشاورینو او جنرالانو موجودیت او د افغانستان د جګړو لا اوږدولو لپاره د روسانو له خوا د پریمانه وسلو او مهماتو را لیږلو دی ته وهڅاوه چی نور د مخالفینو په صف کی نه بلکی د اسلامی امارت له مجاهدینو سره یوځای شوي په هیواد کې د سولې او ثبات لپاره کار وکړي .

د هیواد هوایي

توریزم وزارت د وظیفوی مکلفیت په توګه په دی لټه کی شو چی سمباله دستګاه وارده کړی چی له عبوری الوتکو سره تماس تامین کړی او هغوی ته لازمی اسانتیاوی برابری کړو او زمور د هیواد له فضا څخه د تیریدو ترو وخته پوری ور سره تماس ولرو چی په همدی مقصد مو د هوایی ترانسپورت له نړیوالی ټولنی سره تماس ونیوه چی په پای کی یی په ۱۹۹۸ میلادی کال کی ددغی پروژی د پیرودنی ترون د افغانستان د اسلامی امارت د ملکی هوایی چلند او توریزم د وزیر محترم ملا اختر محمد منصور او د ایاتا د مسول مناغلی توني لیون تر منځ لاسلک شو چی د رولو او مونتاژ کار یی د ایاتا جرمنی کمپنی ناروېجي کمپنی او د افغانی انجنیرانو او ماهرانو لخوا د ۱٤۲۰ هری قمری کال د شعبان المعظم په میاشت کی په عملی ډول پیل شو . دغی پروژی شپږ میاشتی مخکی په امتحانی فعالیت پیل وکړ چی د هغی په درولو او مونتاژ کی د ایاتا مرستیال ... ددغی پروژی مسول ساعی کړی ... او ... ماشینونو ستر رول لوبولی دی.

د ملکی هوایی چلند او توریزم وزارت محترم تخنیکی معین زیاته کړه ددغی پروژی ټول ارزښت چی د ستلایت له لاری په مصنوعی سپوږمی سره فعالیت کوی دری اعشاریه دری ملیونه امریکایی ډالره کیږی چی تر اوسه پوری ددغی پروژی په سلو کی ... سه د عبوری الوتکو د اجوری له پلوه تحویل سویده.

ددغی مدرنی پروژی په فعالیت سره د عبوری الوتکو شمیر په یوه شپه او ورځ کی یو سلو لس ته رسیدلی دی پداسی حال کی چی ددغی پروژی له فعالیت څخه مخکی له شپیتو څخه تر اتیاوو پوری رسیده . ددی امکان شته چی د عبوری الوتکو شمیر زیات شی. چی په هره الوتنه کی افغانستان به څلور سوه امریکایی ډالره فیس ورکوی. محترم علمی زیاته کړه د ملکی هوایی چلند او توریزم وزارت د ملکی هوایی چلند د نړیوال سازمان د هوا پوهنی د نړیوال سازمان د هوایی ترانسپورت د نړیوالی ټولنی د هوایی مخابری د شرکتونو د نړیوالی ټولنی او د توریزم د نړیوال سازمان په ګډون له پنځو هوایی نړیوالو ټولنو او سازمانونو سره ارتباط او همکاری لری. په افغانستان کی ددی ستی پروژی په فعالیت سره ټولی عبوری الوتکی کولی شی له هغو مدرنو اسانتیاوو څخه په استفادی سره چی زموږ په واک کی دی په بشپړ مصونیت او داډ سره زمونږ د هیواد له فضایی ډهلیزونو څخه استفاده وکړی.

د ګهون بیه له هیواد نه بهر		
ملك	شپږ میاشتني	کلني
پاکستان	RS200	RS400
د خلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150

د کانو او صنایعو وزارت د روان کال ...

حالت چټکتیا ومومی او په دی توګه په اقتصادی او تولیدی موسسو کی د تولید د سطحی د لوړیدو سبب شی .

ده زیاته کړه : اوس د کانو او صنایعو وزارت په چوکاټ کی ۱۷ تولیدی موسسی فعالی شویدی او په کار بوختی دی چی د ملی اقتصاد په وده او پراختیا کی ستر رول لوبوی . دغه موسسی په هیواد کی د تیرو بی ماناجګړو له امله له کار او فعالیت نه لویدلی وې خو لله الحمد د دغه وزارت د مسئولینو د هڅو او هاند په نتیجه کی بیا فعالی او د کار جوګه شوی دی او عملاً یی په تولید پیل کړیدی چی د روان کال په تیرو شپږو میاشتو کی د دغو موسسو او فابریکو د تولیدی عوایدو له درکه څه د پاسه ٤۷۰ ملیارده افغانی ترلاسه او له حسابی اصولو سره سم اړوندی ځانګی ته تحویل شوی دی او عمدتاً له دغو عوایدو څخه د خامو موادو په تهیه کولو او د اړوندو مامورینو او پرسونل د معاشونو د اجرا کولو په برخه کی کار اخیستل شویدی .

دی زیاتوی :همدا اوس د خامو تیلو تولید په یوه ورځ کی له ۱۱۰ څخه تر ۱۲۰ ټنو پوری رسیږی او د هر ټن بیه لس ملیونه افغانی ټاکل شویده .دغه راز د کوډ او برق ورځنی تولید ۲۲۰۰ کڅوری کیساوی سره تشکیلوی چی د هری یوی کڅوری بیه یه ... ٦ ډالره ټاکل شویده. دغه راز د سمنټیو تولیدات په یوه ورځ کی ۸۰۰۰ کڅورو ته رسیږی او داهڅی روانی دی چی د سمنټو تولید له دی نه هم زیات کړی شی او په مناسبه بیه هیواد والو ته وړاندی شی .

تومړوری زیاته کړه : همدا اوس دلوګر ، پکتیا او خوست په ولایتونو کی د کرومیتو په کانونو ، د خیرخانی مینی ، میدان ښار ، خوګیانیو ،شینوارو ، ګزک او قلمکار د مرمرو په کانونو ،دهلمند ولایت درخانو په کان ، دلوګر ولایت دسرخاوری او چونی په کانونو ،په چهل دختران او درونته کی د شاه مقصود په کانونو ، په ننګرهار کی دګچو ، یاقوتو ، ددبروسکرو او مالګی په کانونو او په سرپل او شبرغان کی دنفتو او ګازو په کانونو باندي کار روان دی د یادونی ور ده چی د تیلو او ګازو ، کرومیتو ،مرمرو او د مالګی له کانونو څخه زیات عواید لاس ته راځی . چی په ټاکل شوی حساب اړوند بانک ته تحویلیږی .

په پای کی محترم الحاج ملا محمد عیسی آخند داسی وویل :

موږ په پام کی لرو چی په کانو او صنایعو پوری اړوند پرمختیایی پروګرامونه داسی عیار او تنظیم کړو چی د تولیداتو کچه لوړه او د خلکو اړتیاوی پوره شی او په دی توګه له بهر څخه دورته محصولاتو د توريد کچه را ټیټه شی . دغه راز موږ داهم په پام کی لرو چی ملی سوداګر او متشبثین دی ته وهڅوو چی په اقتصادی او صنعتی برخه کی په بیلا بیلو ... کی پانګه واچوی او په دی توګه هیواد او خپلو ... ته خدمت ... د ترسره کولو سره خپل ملی او اسلامی مسئولیت ترسره کړی.

مرکه کوونکی حمیدالله «شبنم عالمی»

نمایندگان فلسطین

برسند. مطابق به گزارش رادیو اسرائیل قرار است مقدم از همه تمام نقاط را که در جریان مذاکرات قبلي به توافق رسیده اند جمعبندي نمایند.

طرفین مذاکرات پریشب اعتراف نمودند که امر انعقاد یك قرار داد صلح قبل از انتخابات پارلماني در اسرائیل که در اواخر ماه حوت در آنکشور دایر میگردد میسر نمیباشد. نماینده گان فلسطیني ها و اسرائیلي ها در دور جدید مذاکرات گفتگو هاي خود را جدي و عمیق قلمداد کردند .

د فواید عامې ...

په هغی غونډه کی چی د سیمینار د پایته رسیدو په خاطر د فواید عامی وزارت په مقر کی جوړه شوی وه د ریاست الوزرا محترم اقتصادی مرستیال او د فواید عامی وزیر محترم مولوی احمد الله مطیع په وار سره ددغه شان سیمینارونو د جوړیدو د اهمیت او ارزښت او په هیواد د چارو کی د هغو د اغیزمنتوب په باب خبری وکړی او د سیمینار برخه وال یی خپلو راتلونکو **دندو او مکلفیتونو ته متوجه کړل .**

SHARIAT WEEKLY

Published by :

Islamic Emirate of Afghanistan

Chief Editor: **Abdurrahim "Saqeb"**

Editor: **Ghulam M. Farooq**

Printed by: Emirate's Printing Press